# Economic Growth اقتصادي وده

## خیړنه او تحلیل

Ketabton.com

10/9/2014

لیکنه : سیدحبیب

Sayed Habib

Downloaded from: ketabton.com



**اقتصادی وده (Economic Growth)**

اقتصادي وده يوه کمي اصطلاح ده چې په يو ټاکلي وخت (معمولا يو کال ) کې د يو هيواد د توليد شويو اجناسو او خدماتو زياتوالي ته وايي، په ساده ډول سره ويلای شو چې اجناسو او خدماتو اندازه د تير کال په پرتله ډيري .

په اوږدمهال کې د خلکو د ضرورياتو د رفع کولو لپاره د مجموعي عرضې په منظور د توليد د ظرفيت زياتوالی اقتصادي وده ده ، په حقيقت کې د هر هيواد اقتصادي وده د همغه هيواد د توليد د دوامداره ودې او زياتوالی په معنی ده چې د توليد په زياتوالي سره د عايد په شمير کې زياتوالی راځی چې د عايد زياتوالی د ژوند د ښه والی په معنی دی .

اقتصادي وده د يو هيواد د ملي عايد، مصرف، توليد، پانګه اچوني، انفلاسيون د نرخ او صادراتو له کچې سره اړيکه لري .

اقتصادي وده بايد متوازنه وي په داسې ډول سره چې د اقتصادي ودې سره ټول ترلي متحول لکه ملي عايد، مصرف، پانګه اچونه ، استخدام بايد په يو اندازه سره متوازنه وده وکړي .

**د اقتصادي ودې د نرخ پيداکول (Rate of Growth) :**

اقتصادي وده د يو هيواد د Gross Domestic Product- GDP يا ناخالص داخلي توليد په اساس معمولا د يو کال لپاره سنجول کيږي .

د يو کال په جريان کې د يو هيواد توليد شويو اجناسو او خدماتو نهايي ارزښت ته ناخالص داخلی توليد وايي نو په دې اساس ويلای شو چې اقتصادي وده د GDP د تغير په نتيجه کې په لاس راځي .

د اقتصادي ودې د نرخ د پيدا کولو لپاره دوه لارې موجودې دي يو حقيقي اقتصادي وده او دوهم يې سطحي اقتصادی وده ده .

د سطحي اقتصادي ودي نرخ د کورنی ناخالص توليد په اساس يوازې د پيسو د واحدونو د شمير په اساس سنجول کيږي يعنې هغه ارقام چې د GDP له لارې په لاس راځي د سطحي اقتصادي ودې له نرخ څخه عبارت دي پداسې حال کې چې د حقيقي اقتصادي ودې نرخ د پيسو د واحدونو د ارزښت په نظر کې نيولو سره سنجش کيږي او د سنجولو په صورت بايد د پيسو واحدونو څخه کلنی انفلاسيون نرخ منفي شي تر څو حقيقی اقتصادي ودې نرخ تر لاسه شي .

حقيقي اقتصادي وده = سطحي اقتصادي وده – د انفلاسيون کلنی نرخ

داقتصادي ودې د نرخ د پيداکولو لپاره لومړی د GDP پيدا کولو باندې تمرکز کوو :

Downloaded from: ketabton.com



د مصرف په طريقه د GDP پيداکول :

د مصـرف پـه اسـاس ناخـالص داخلـی توليـدات GDP د يـو هيـواد د ټولـو سـکتورونو د مصـارفو د مجموعي څخه عبارت دي .

$$Y=C+I+G+(X-M)$$

GDP = د استفاده کوونکو مصارف +پانګه اچونه + دولتي مصارف + (صادرات – واردات)

کلـه چـې د GDP ارقـام پـه لاس راشـي نـو پـه اسـانی سـره کـولای شـو د يـو هيـواد د اقتصـادي ودې نرخ پيدا کړو :

Growth Rate = (GDPY1)-(GDPY2)/ (GDPY2)*100

Y1: لومړی کال (جاري کال)
Y2: تير کال

د اقتصـــادي وده د توليــد د ظرفيــت او انــدازې زيــاتوالی، او ملــي ســرانه عايــد زيــاتوالی پــه شــکل اندازه کيږي .

د يو هيواد ملي اقتصاد په دوه ډوله د اقتصادي ودې حالت ته رسيدلی شي :

1. پراخه (Extensive) اقتصادي وده :
2. شديده (Intensive) اقتصادي وده :

پـه لـومړي ډول اقتصـادي وده کـې د توليـد عوامـل ( ځمکـه، پانګـه او کـار ) پـه کميـت کـې زيـاتوالی راځـي او د توليـد د زيـاتوالی لپـاره د توليـد عوامـل پـه اسـتفاده کـې زيـاتوالی راځـي تـر څـو ايجـاد شـوې تقاضا مرفوع شي .

پـه دوهـم ډول اقتصـادي وده کـې د توليـد د عواملـو پـه مولـديت کـې زيـاتوالی راځـي چـې د توليـد د عواملـو پـه انـدازه کـې تغيـر نـه راځـي يـوازې د توليـد د زيـاتوالي لپـاره د توليـد د عواملـو څخـه اعظمي استفاده صورت مومي .

**د اقتصادي ودې خنډونه :**

يـو هيـواد هغـه وخـت کـولای شـي چـې د اقتصـادي ودې پـه لـور حرکـت پيـل کـړي چـې يـا د توليـد د عواملـو څخـه پـه زياتـه انـدازه سـره اسـتفاده وکـړي او يـا هـم د موجـوده عواملـو څخـه اعظمـي اسـتفاده وکړي تر څو په نتيجه کې خپلو توليداتو ته پراختيا ورکړي .

اقتصادي وده د لاندې عواملو په اساس له خنډونو سره مخامخ ده .

Downloaded from: ketabton.com



- هغه هیوادونه چې د دریو مهمو ( اساسي ، اجتماعي او صنعتي ) زیربناوو له کمبود سره مخامخ وي .
- هغه هیوادونه چې د صنعتي زیربناوو لپاره کافي او ماهر کارگر ونه لري .
- هغه هیوادونه چې فني او تخنیکي پوه و نه لري او یا هم د هیواد وکړي د تکنالوجي د تغیراتو لپاره آماده نه وي .

**د اقتصادي ودې گټې (ښیگڼې) او مصارف (مشکلات) :**

اقتصادي وده د یو هیواد د اقتصادي پرمختیا او توسعي لپاره اساسي شرط گڼل کیږي او هیوادونه همیشه هڅه کوي تر څو په لوړه اندازه اقتصادي وده ولري خو اقتصادی ودې سره گټه او تاوان تړلي دي .

په ډیرو هغه پرمختیایی هیوادونو کې چې تر اوسه خلک په ډیر ابتدایی ډول خپل ژوند پرمخ بیایی او غوارړي د فقر له کړی خپل ځان و باسي اقتصادي وده یو ضروري عمل دی.

برعکس د پرمختللو هیوادونو لپاره اقتصادي وده دومره زیات اهمیت نه لري ځکه هلته د ژوند ډیر لوړ معیارونه پوره شوي او ژوند د تکامل حالت ته نژدې شوی دی .

اقتصادي وده ډیرې ښیگڼې او بدی لري په هیڅ صورت سره اقتصادي وده په یو اړخیزه ډول سره د ټولنې د رفاه سبب نه شي گرځیدای، کیدای شي د ژوندانه په بعضو اړخونو کې ډیرې ښیگڼې ولري ولې بعضي نور خلک کیدای شي متضرر شي نو ددې لپاره چې پوه شو د اقتصادي ودې ښیگڼې او بدی په جلا ډول څیړل کیږي .

د اقتصادي ودې گټې په لاندې ډول سره څیړل کیږي :

د ژوند عالي سهولتونه: د اقتصادي ودې سره د عاید په اندازه کې زیاتوالی راځي چې په عمومي ډول د عاید په زیاتوالی سره د ژوند عالي سهولتونه رامنځته کیږي چې د خلکو په ژوند کې د روغتیا، زده کړې ، بریښنا، سړک ، مسجد او سهولتونه په ښه ډول سره مهیا شي . د اقتصادي ودې په نتیجه کې تحرک را منځته کیږي ، ډیر خلک کار کوي تر څو ډیر څه تولید کړي او یا خلک ډیر څه تولید وي .

د استخدام د کچې زیاتوالی : کله چې د اقتصادي ودې په نتیجه د خلکو عاید زیاتوالی ومومي نو د تقاضا زیاتوالی رامنځته کیږي چې د تولید زیاتوالی ته ضرورت دی او د تولید د زیاتوالی لپاره باید ډیر خلک په کار باندې و گمارل شي .

د دولت قوي والی : اقتصادي وده یو هیواد ته ډیر قوت وربخښي ځکه د ودې په صورت کې په هیواد کې د زیربناوو زیاتوالی رامنځته کیږي هغه دولت غښتلی کیږي د هیواد وکړي په ځان باور پیداکوي ، تر ټولو ښه روغتیایی اسانتیاوې ، ترټولو ښه دفاعي قوت ، انترنت او ارتباطات

Downloaded from: ketabton.com



هغه څه دي د يو هيواد د عکس په جوړولو کې مهم رول لوبوي او هغه دولت په دوامداره ډول سره کوشش کوي تر څو د خدماتو معيار او اندازه په متواتر ډول سره لوړه وساتي .

د اقتصادي ودې منفي اړخونه او مشکلات په لاندې ډول سره څېړل کيږي :

د چاپيريال ساتنې مشکلات: دا چې له اقتصادي ودې سره تقاضا زياتيږي نو معمولا توليدات هم زياتيږي چې ځينې توليدات له ځان سره اضافي او بيکاره مواد لري چې چاپيريال ته زيان لري او همدارنګه کيداى شي د اقتصادي فعاليتونو په زياتوالى سره ځنګلونه له منځه ولاړ شي او د کرونديز ځمکې په صنعتي ځمکو بدلې شي چې دا ټول د هوا او چاپيريال د ککړتيا سبب ګرځي.

اکثر هيوادو کې تجربه شوي چې پرمختيايي هيوادونه نه دي توانيدلي په دې برخه صحي او موثره پاليسي وضع کړي او مولدين وهڅوي تر څو چاپيريال ساتنې ته توجه وکړي .

د طبيعي منابعو کمبودي: په هغه صورت کې چې اقتصادي وده بدون له دې څخه چې د موجوده عواملو څخه په موثر ډول سره استفاده وشي اقتصادي وده د توليد د عواملو د زيات استعمال په اساس را منځته شوي وي نو د زياتو طبيعي منابعو په Extensive Economic Growth استفادې سره د و خت په تيريدو سره د هغه په اندازه او کيفيت کې تغير راځي چې کيداى شي دا منابع په ډير سرعت سره خلاص شي چې بيا يې د نوي کيدو امکانات نشته .

د عايد غير عادلانه ويش : اقتصادي وده د زيات توليد معنى لري چې د زيات توليد په مقابل زياتې پيسې لاسته راځي چې دا په هيوادونو پورې اړه لري چې کوم توليداتو ته زياته اړتيا لري زموږ په ټولنه کې زيات تقاضا خوراکي موادو ته ليدل کيږي نو پيسې ټولې د غريبو خلکو له جيبو څخه د شتمنو خلکو ته ځي چې دلته غريب خلک غريب پاته کيږي او شتمن خلک نور هم شتمن کيږي ځکه په اکثره اقتصادي نظامونو کې د توليد زيات عوامل د شتمنو خلکو په کنترول کې دي .

**د اقتصادي ودې اداره او کنترول :**

وروسته له دې څخه چې د اقتصادي ودې په اړه ټول مهم نکات ذکر شول اوس مهمه داده چې د يو هيواد لپاره په کومه اندازې سره اقتصادي وده ضرورت ده ؟

که چيرته اقتصادي ودې نرخ ډير لوړ وي نو دا بيا په خپل وار سره د انفلاسيون د زياتوالي سبب ګرځي چې د هيواد د پيسو ارزښت د کموالى سبب ګرځي، او که چيرته دغه نرخ ډيرټيټ شي نو د بيکارى سبب ګرځي په پايله کې د اقتصادي ودې د نرخ لپاره داسې يو اندازه بايد و ټاکل شي چې خطر يې حد اقل وي .

Downloaded from: ketabton.com



دولتونه په دې اړه ډېرې پولي او مالي پالیسۍ تر لاس لاندې نیسي تر څو اقتصادي وده په یو معتدل شکل سره را منځته شي چې خطر و نه لري .

دری مهم انتخابونه و جود لري تر څو دولتونه و کولای شي اقتصادي وده تر خپل کنترول لاندې راولي :

1. پولي پالیسي: په پولي پالیسیو کې د مرکزي بانک له پلوه د حکومت په نمایندګی سره داسې تګلاره وضع کیږی چې د سود د نرخ په تنظیم سره د انفلاسیون مخه ونیسي .
2. مالی پالیسی : په دې برخه کې د دولتونو د بودجې جوړونې د اداره له خوا پلان نیول کیږی چې دولت باید د یو کال په جریان کې څومره پیسې تر لاسه او څومره پیسې په څه وخت په مصرف ورسوي .

د کوچني اقتصاد ریفورم : دا د ولت له لوري یو ډول اصلاحي پروګرامونه تنظیمول په بر کې نیسي چې د هغې په نتیجه کې کوچني تشبثونه د اقتصادي ودې د کنترول په موخه استفاده کیږي .

پای

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com - Digital Library**